آصف بهاند ۲۰۱۸/۰۱/۳۰

# دغه د وير، وينو او اوښكو

# تيكه دار ولې موږ؟

كله مې زړه ته داسې ولويږي چې موږه به يې

يوازې وينو، اور او وير ته پيدا كړي يو بس

هره ورځ وينې دي، د اوښكو سيلاو

هره شپه چغې دي د كونډو او زاړه مور و پلار

هره سا ساندې د يتيمو بچو

دغه د وير، وينو او اوښكو تيكه موږ وهلې؟

كه دې نړۍ كې كوم بل څوك هم شته دي؟

كله سرې ته گيله ودريږي

له اوښكو ډكې سترگې واړوي

په چيغو ورته دا ووايي:

موږ همدا اوس يو په برزخ كې پراته

موږه په دې دنيا دوزخ كې پراته

موږه لږ خلاص چورت د جنت څنې كړه!

موږه لږ خلاص له جهالت څنې كړه!

۲۰۱۸/۰۱/۲۹
هيدرسليف
ډنمارك


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ